| ٦ | د دفتر داري اصول | PE.ED – 0811 | مسلکي / اساسي | ۲ |
| ۷ | اسلامي ثقافت (اسلامي تمدن) | SL. IC - 0801 | پوهنتون شمول | ۲ |
| **د کریډیټونو مجموعه** | | | | **۲۱** |

**انګلیسي څانګې نصاب: د انګلیسي څانګې د اتو سمیسترونو نصاب په لاندې ډول سره ترتیب شوی دی.**

## د لیسانس دورې د زده کړې د مقررې په اساس سره د آزموینو لایحه:

**د حاضرۍ نصاب**

**شپاړسمه ماده:**

1. په مضمون کې د حاضرۍ د نصاب بشپړول حتمي دي. په درسي ساعتونو کې ۷۵ سلنه حاضري د اړوند مضمون په وروستۍ آزموینه کې د شاملیدو لپاره شرط ګڼل کیږي.
2. د مضمون د تطبیقاتو په ساعتونو کې له ۲۵ سلنې څخه زیاته غیرحاضري، د تطبیقاتو له نمرو څخه د محرومیت لامل کیږي.

**د بریالیتوب نمره**

**اوولسمه ماده:**

1. د هر مضمون لپاره د بریالیتوب نمره ۵۵ سلنه ده، سربیره پر دې په هر سمیسټر کې د عمومي نمرو د اوسط ۶۰ سلنه بشپړول لازمي ګڼل کیږي.
2. د سمیسټر د نمرو د اوسط محاسبه یا د هر مضمون د کریډیټونو شمیر د نوموړي مضمون له وروستۍ مضمون له نمرو سره ضربیږي، او د ورکړل شویو آزموینو د مضامینو د نمرو مجموعه د هماغه مضمونونو د کریډیټونو د شمیر پر مجموعي تقسیمیږي.

**د آزموینو تفکیک**

**اتلسمه ماده:**

1. د مضمونونو ارزونه په لاندې ډول سره محاسبه کیږي:
   1. وروستۍ آزموینه له ۵۰ تر ۶۰ سلنې پورې ده.
   2. د سمیسټر منځنۍ آزموینه له ۲۰ تر ۳۰ سلنې پورې ده.
   3. تطبیقات، عملي کار او د ټولګي فعالیتونه ۲۰ سلنه پورې دي.

2. هغه مضمونونه چې عملي کار یا تطبیقاتو ته اړتیا نه لري، وروستۍ ارزونه یې له ۶۰ تر ۷۰ سلنې پورې محاسبه کیږي.
3. که چیرې یو محصل د سمیسټر په منځنۍ آزموینه کې ګډون ونه کړي، د سمیسټر د منځنۍ آزموینې دوهم چانس له ۷۵٪ سلنې نمرو څخه محاسبه کیږي.
4. د ټولګي د پروژې، ګرافیکي کار، ستاژ او د لوست د زده کړې ارزونه د اړوندو څانګو له واک څخه دي.

### ارتقاء او عدم کریډیټ

**نوولسمه ماده:**

1. محصل هغه وخت کولای شي لوړ سمیستر ته ارتقاء وکړي، چې په هماغه سمیستر کې د ثبت شویو کریډیټونو نیمایي بشپړ کړي. په هغه صورت کې چې کریډیټونه طاق وي، نیمایي کریډیټونه د محصل په ګټه محاسبه کیږي.
2. که چیرې محصل په یو یا څو هغو مضمونونو کې چې د هماغه سمیستر له نیمایي کریډیټونو څخه ډیر کم وي محروم، غایب او د بریالیتوب په نمرو ونه توانیږي بل سمیستر ته ارتقاء کوي په هماغه مضمونونو کې عدم کریډیټ شمیرل کیږي. د عدم کریډیټ مضامینو د بشپړولو لپاره د دوو سمیسترونو تر منځ په رخصتیو او یا په راتلونکو سمیسترونو کې **د لړۍ په پام کې نیولو سره له لاندې امکاناتو څخه ګټه اخیستلای شي.**
   1. د هغو مضمونونو د شمیر له مخې چې د بریالیتوب نمره یې پکښې اخیستې نه وي، له ۲ تر ۴ اونیو پورې د مضمون تعقیبول او د مضمون په پای کې د آزموینې تیرول.
   2. د ۲ تر ۴ اونیو لپاره د څانګې له لورې د سپارل شوې دندې تر سره کول، چې د مضمون د منځپانګې معادل وي او په پای کې د آزموینې د تیرولو چمتوالی.
   3. په هغه صورت کې چې د محصلینو شمیر له پنځو تنو څخه کم وي، د اړوندې څانګې له لورې محصل ته د انفرادي کار سپارل او په ټاکلي وخت کې د آزموینې اخیستل.
   4. د مضمون تعقیب (حضوري) یا انفرادي کار او د آزموینې اخیستل د سمیسټر د آزموینو له پیل کیدو څخه مخکې چې محصل په هغه کې قرار لري، صورت مومي.
3. پوهنځی د اړوندې څانګې په مشوره د عدم کریډیټ د محصلینو د آزموینې اخیستلو مهال ویش ترتیبوي. د آزموینې اخیستلو څخه وروسته اړوندې څانګې د آزموینې پایلې د یوې اونۍ په موده کې په رسمي ډول پوهنځي ته لیږل.
4. که چیرې محصل د یوه سمیستر نیمایي کریډیټونه بشپړل کړي وي، د هغه د آزموینې د نمرو اوسط د پاي کریډیټونو د بشپړیدو وروسته محاسبه کیږي.
5. که چیرې یو محصل د اخیستل شوې آزموینې په ټولو مضمونونو کې د بریالیتوب نمره اخیستې وي، خو د نمرو اوسط یې پوره کړي نه وي بل سمیستر ته ارتقاء کوي او هغه ته لیکلی خبرداری او اخطار ورکول کیږي.
6. که چیرې محصل د محرومۍ یا د یوه یا څو مضمونونو د عدم کریډیټ له امله په هغه صورت کې چې ۵۰٪ سلنه کریډټونه یې بشپړل کړي وي، د دوهم ځل لپاره د مضمون یا انفرادي کار له بشپړولو څخه وروسته په یو یا دوه مضمونونو کې عدم کریډیټ شي، یوازې د عدم کریډیټ شوي یوه یا دوه مضامینو کې د دوه اونیو د چمتوالي په بهیر کې د دریم ځل لپاره آزموینه ورکوي.
7. محصل د عدم کریډیټ په صورت کې د دریم ځل لپاره خپلو زده کړو ته دوام ورکوي، او عدم کریډیټ شوي یو یا دوه مضمونونه د زده کړې په پاي کې د یو سمیستر لپاره د اړوندې ټولګی له نورو محصلینو سره تعقیب کوي. همدارنګه د سمیستر په پاي کې له نورو محصلینو سره آزموینه ورکوي. د یوه یا څو مضمونونو د عدم کریډیټ په صورت کې ددې مقررې د درویشتمې مادې د حکم تابع کیږي.
8. د کورس له جوړیدو یا انفرادي کار څخه وروسته په دوهم چانس کې له دوو څخه د زیاتو مضامینو عدم کریډیټ د هماغه سمیستر عدم کریډیټ شوي مضمونونه د بل کال په سمیستر کې تکراروي.
9. د محصلینو راتلونکې آزموینې له ۱۰۰٪ سلنې نمرو څخه محاسبه کیږي.
10. که چیرې د مضمون د وروستۍ آزموینې پایله د استاد له لورې غیر تکمیل شوي راپور ورکړل شوي وي، او د صنفي آزموینې، کورنی کار، تطبیقاتو یا د ورستنیو آزموینو یوه برخه ئې بشپړه کړې نه وي، د هماغه سمیستر د نمرو د ټولګې اوسط د هماغه مضمون د پایلې تر بشپړیدو پورې نه محاسبه کیږي.

11. محصل مکلف دی چې نا تکمیل شوی مضمون د بل سمیستر تر پیل پورې بشپړ کړي، او راپور یې له اړوندي ځانګې او یا هم پوهنځي ته وړاندي کړي.

## د سمیسټر تکرار

**شلمه ماده:**

1. د یوه سمیسټر د کریډیټونو له نیمايي ځخه زیات عدم کریډیټ، محروم او د آزموینې غایب چې محصل په هغه کې نوم لیکلی دی، د هماغه سمیسټر عدم کریډیټ ګڼل کیږي. یوازې هغه مضمونونه چې په هغو کې عدم کریډیټ پاتې شوي دي، په بل کال کې په عین سمیسټر کې تعقیب او د کریډیټونو اوسط یې د سمیسټر د مضمونونو له مجموعې ځخه محاسبه کیږي.
2. که چیرې یو محصل د سمیسټر په بهیر کې حاضرې بشپړه او د سمیسټر منځنۍ آزموینې یې تیرې کړې وي او د آزموینې په ورځ له مضمونونو ځخه په یوه کې د غیرمترقبه پېښو له امله حاضر نه شي او مؤجه اسناد او مدرکونه یې د پوهنتون یا د لوړو زده کړو مؤسسې د آزموینو د کمیټې له لوري تائید شوي وي وړاندي کړي، د نوموړي مضمون آزموینه په معذرتي ډول د سمیسټر د آزموینو په پای کې تیروي او پایله یې په لومړي چانس کې د محاسبې وړ ده.

## دايمي منفکي

**یوویشتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې د زده کړې په دوران کې په عین سمیسټر کې د کریډیټونو له نیمايي ځخه زیات دوه ځلې عدم کریډیټ دوه ځلي تکرار شي، له اړوندي لوړو زده کړو مؤسسې ځخه د محصل د دايمي منفکۍ لامل کیږي.

## د نمرو اوسط نه بشپړول

**دوه ویشتمه ماده**

1. د سمیسټر د نمرو د عمومي اوسط نه بشپړول په لومړي ځل کې د تدریسي مدیریت له لوري د پایلو په جدول کې په درج سره د محصل د شفاهي خبرداري لامل کیږي، او په دوهم ځل کې نه بشپړول په هغه صورت کې چې په دوو پرله پسې سمیسټرونو کې وي، د پایلو په جدول کې په درج سره لیکلي خبرداری یا اخطار او له محصل ځخه د لیکلي ژمنې او تعهد د اخیستلو لامل ګرځي.
2. په دریم ځل کې د نمرو اوسط نه بشپړول چې په دریو پرله پسې سمیسټرونو کې وي، محصل د نمرو اوسط د بشپړولو په منظور د هغو دوو مضمونونو د آزموینې په بیا تیرولو مکلف دي چې په وروستي سمیسټر کې (د نمرو اوسط نه بشپړول) کې چې په هغو کې یې تر ټول کمې نمرې اخیستي وي.

## د زده کړې د دورې موده

**درویشتمه ماده:**

د وړیا زده کړې زیات نه زیاته دوره په ځلور کلنو پوهنځیو کې د ټاکلې دورې له دوو کلونو ځخه او له ځلور کلنو زیاتو پوهنځیو کې دریو کلنو ځخه زیات کیدلای نشي.

**د نمرو تشريح**

**څلرويشتمه ماده:**

1. د بريالیتوب د نمرو تشريح له A څخه تر D پورې په لاندې ډول دي:
   i. ۹۰ څخه تر ۱۰۰ A.
   ii. ۸۰ څخه تر ۸۹ B.
   iii. ۷۰ څخه تر ۷۹ پورې C.
2. له ۵۵ څخه کمې نمرې عدم کريډيټ ګڼل کيږي او په F توري ښودل کيږي.

**د ليسانس د دورې د زده کړې مقررې د آزموينو د لايحې څلورم فصل: د آزموينې د اخيستلو ډول**

**د لوړو زده کړو د مؤسسې د آزموينو کميټه**

**شپږ ويشتمه ماده:**

1. هره پوهنځي د سميسټر په پای کې د آزموينو د اخيستلو په منظور د پوهنځي د رئيس تر رياست لاندې يا د لوړو زده کړو د مؤسسې د محصلينو چارو د مرستيال تر رياست لاندې د لوړو زده کړو د مؤسسې د آزموينو کميټه رامنځته کيږي چې په آزموينو پورې له اړوندو چارو څخه خارنه کوي.
2. آزموينې د لوړو زده کړو د مؤسسې د آزموينو د کميټې له تصميم سره سم په ليکلي، تقرري يا مختلط ډول اخيستل کيږي.
3. د سميسټر د وروستۍ آزموينې لږ تر لږه وخت ٦۰ دقيقې او حد اکثر وخت يې دوه ساعته دی. په هغه صورت کې چې زياتې مودې ته اړتيا وي، د لوړو زده کړو د مؤسسې د آزموينو کميټه په دې هکله تصميم نيسي.
4. د وروستۍ آزموينې پارچې د لوړو زده کړو د مؤسسې د آزموينو کميټې په شتون کې د اړوند مضمون د استادانو له لورې د آزموينو کميټې په خونه کې کتل کيږي.

**د پوښتنو شمير**

**اووه ويشتمه ماده:**

1. د سميسټر د وروستۍ آزموينې د پوښتنو شمير د مضمون د ډول او ځانګې لمځې له ۲۰ تر ۴۰ پوښتنې ټاکل کيږي. په ځانګړو شرايطو کې ددې مقررې د شپږويشتمې مادې د (۱) فقرې درج شوې کميټه د پوښتنو په هکله تصميم نيسي.
2. د سميسټر د وروستۍ آزموينې د اخيستلو لپاره د مضمون او ځانګې د ډول لمځې څلور څوابه، لنډ تشريحي تحليلي او محاسبوي پوښتنې له آزموينې څخه يوه ورځ مخکې چمتو کيږي.

**د وروستۍ آزموينې پايلې**

**اته ویشتمه ماده:**

1. د وروستی آزمویني پایلي د آزمویني له اخیستلو څخه وروسته د ۳ او یا ۵ ورځو په جریان کې اعلانیږي.
2. د سمیستر د وروستی آزمویني پایلو له اعلان څخه وروسته ۳ کاري ورځي د پارچي د بیا کتني لپاره ټاکل کیږي. محصل کولای شي د پایلو له اعلان څخه وروسته په دي موده کې خپل لیکلی غوښتنلیک یا عریضه د پارچي د بیا کتني لپاره د اړوندي پوهنځي ریاست ته وړاندي کړي.
3. که چیري په یوه مضمون کې د ناکامو محصلینو شمیر له ۳۰ سلني څخه زیات وي، د لوړو زده کړو د مؤسسې د آزموینو کمیټه له اړوندې ځانګې سره د هغه عوامل په کره توګه پلټي او د هغو په منطقي حل کې لازم اقدامونه تر سره کوي.
4. د سمیستر د وروستی آزمویني پارچي لږ تر لږه د یوه سمیستر د مودي لپاره د آزموینو په کمیته کې ساتل کیږي او له هغې وروسته د آزموینو د کمیټي او د اړوندي ځانګې د ګډ پلاوي په شتون کې سوځول کیږي.

## د ښوونې او روزنې پوهنځي د محصلینو صحي، ایمني او امنیتي پالیسي:

د ښوونې او روزنې پوهنځي  کې زیات شمیر محصلین په زده کړو بوخت دي او خپلي زده کړې پر مخ وړي، نو اړینه ده چې د دوی د هوساینې او ذهني ودې د ښه چاپیریال رامنځته کولو لپار د هیواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د لوړو زده کړو وزارت قوانین، لوایح او مقررات طرح کړي دي او زموږ په اختیار کې دي او هدف د محصلینو لپاره ښه خدمات وړاندي کول دي، او کومي ستونزي چې رامنځته کیږي په آسانی سره ورته رسیده ګي وشي، چې د هغوی له جملې څخه یو هم د محصلینو صحي، ایمني او امنیتي پالیسي ده.

دغه پالیسي دري برخې لري (صحي، ایمني او  امنیتي) چې هره برخه په لاندي ډول ده.

**صحي پالیسي:** دا برخه د محصلینو لپاره خورا مهمه ده او د محصلینو د روغتیا د ښه ساتلو په موخه په کې شرایط وضع شوي دي. دا چې د ښو زده کړو لپاره سالم بدن او روغتیا اړینه ده نو د زده کړو لپاره اړینه ده چې یو سالم چاپیریال رامنځته کړو چې نوموړي پالیسي په دي برخه کې مرستندویه ده او لاندي موارد په کې شامل دي.

1. د محصلینو د ویني ګروپ لیست شتون چې د اړتیا پر وخت ورته رسیده ګي کیږي.
2. د محصلینو لپاره د اولیه مرستندویه موادو شتون چې محصلین ورته د پیښو په وخت رسیده ګي وکړي.
3. د پوهنځي  په داخل کې د ټولو تدریسي او اداری صنفونو ساتلو په موخه باید خدماتي کارمندان شتون ولري، که څوک په دې برخه کې کومه ستونزه ویني د پوهنځي سره دي په تماس کې شي تر څو ستونزه ژر تر ژر حل شي.

**ایمني پالیسي:** په دي برخه کې نویو شامل شویو محصلینو لپاره سمینار دایریږي او په هغې کې د پوهنځي په اړه مکمل معلومات وړاندي کیږي او د پوهنځي اړوند ټول قوانین او پالیساني تشریح کیږي تر څو محصلین د پوهنځي په ټولو قوانینو پوه شي او په راتلونکي کې کومه تیروتنه ونه کړي او د جزا مرتکب ونه ګرځي او د لاندي مواردو خیال وساتي.

1. محصلین باید خپل د اوسیدو ځای او همدارنګه د ټولګي، کتابخاني، انټرنیټ او د پوهنځي د چاپیریال  پاکي او صفایي ته پوره پاملرنه وکړي.
2. د پوهنځي په ودانۍ کې له هغو ساحو د څخه لیري واوسي چې خطر لري لکه: فیوز بکسونه، د حریق ضد ډبي، او نور.

3. که کوم مشکوک موارد ويني ژر تر ژره د مسؤولينو ته خبر ورکړل شي تر څو پر وخت اقدام ترسره شي.

**امنيتي پاليسي:** په دې برخه کې هغه موارد ذکر شوي چې د امنيتي پيښو د رامنځته کيدو په صورت کې د محصلينو سره مرسته کوي.

1. که چيري کومه پيښه رامنځته کيږي محصلين کولای شي اړوند مسؤولينو سره په تماس کې شي.
2. د پوهنتون په دروازو کې مؤظف اشخاص شتون لري چې د پيښې په صورت کې د پوهنځي له محصلينو سره مرسته کوي.
3. که چيري اور لګيدنه يا زلزله رامنځته کيږي محصلين بايد د ودانۍ د فرار له لارو د پيښې ځای پريږدي.
4. د اورلګيدنې په صورت کې بايد اطفاءيې يا د حوادثو ضد ادارې ته زنګ وکړي تر څو پيښه مهار شي.
5. ټول محصلين پوهنځي ته د راتګ په وخت کې بايد د هر ډول ناريه او جارحه وسلو له راوړلو څخه ډډه وکړي.
6. ټول محصلين اړ دي چې د امنيتي مسؤولينو سره همکاري وکړي او مزاحمت ورته ونه کړي.

## د ښوونې او روزنې پوهنځي د انصاف او عدالت پاليسي:

په دې ورستيو کلونو کې په ګران هيواد افغانستان کې په زياتو سکتورونو کې چټک پرمختګ رامنځ ته شو، يو له هغو څخه په هيواد کې د لوړو زده کړو په ډګر کې بې سارې پرمختګ وو چې په لنډ وخت کې د هيواد دننه او بهر يې بې شميره متخصصين او مسلکي کادرونه تربيه او د خدمت په توګه افغاني ټولنې ته وړاندې شول. همدا د عالي تحصيلاتو چټک بدلون او وده وه چې د هيواد په لر او بر کې زيات دولتي او غير دولتي د لوړو زده کړو نهادونه تشکيل او ايجاد شول. يو له دغو نهادونو څخه د ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه وه چې په ۱۳۹۶ هـ ش کال کې د زابل په تاريخي او لرغوني ولايت کې د لوړو زده کړو وزارت له خوا تاسيس شوه. ياده مؤسسه په لمړيو کې يوازې د يوې پوهنځي (ښوونه او روزنه) چې په تشکيل کې د څلور څانګو (بيولوژي،کيميا، رياضي او فزيک) په درلودلو سره يې په فعاليت پيل وکړ. اوس د ښوونې او روزنې پوهنځي په لسګونه علمي کادرونه او په سلهاوو محصلين لري، پوهنځي په دريو دورو کې فارغان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

د ښوونې او روزنې پوهنځي د چارو د بهبود، غوره والي او روڼتيا لپاره زيات شمير طرزالعملونه، ميکانيزمونه، طرحې او پاليساني ترتيب او آماده کړي دي تر څو يې په وسيله د محصلينو، استادانو، اداري کارمندانو او کارکوونکو وظايف معلوم، حقوق يې تضمين تر لاسه او لا ښه پياوړي شي. په دې سره به د پوهنځي په ټولو سطحو کې اطمينان تر لاسه شي، چې پوره او بشپړ عدالت تامين او په انصاف سره ټولې پريکړې تر سره شي او ټول ښکيل کسان دا ډاډ تر لاسه کړي چې په ټولو چارو کې لکه استخدام، تشويق، د بورسونو ويش، د علمي ترفيعاتو طی مراحل، د ارزونو پر بنسټ د مکافاتو او مجازاتو تطبيق او نورو ټولو برخو کې د انصاف او عدالت معيارونه او اصول لومړيتوب لري چې ددې تګلارې د عملي کولو لپاره د ښوونې او روزنې پوهنځي د خپلو چارو د ښه والي لرليد ته د رسيدو او خپل رسالت د تر سره کولو لپاره د انصاف او عدالت پاليسي د لاندې چوکاټ او محتوا پر بنسټ جوړه کړې او د عملي کولو لپاره يې پوره هلې ځلې کوي.

**سرچينه:**

د انصاف او عدالت پاليسي د تضمين کيفيت د چارچوب د ۸،۳۹ معيار په اساس ترتيب او تهيه شوې ده.

**موخې:**

1. د استادانو د تقرر، د درسونو او ورځنيو چارو عادلانه ويش، د کنفرانسونو ارزونه، مقالي، تحقيقي او تاليفي آثار، ترفيع، بورسونو، د کميټو او شورا ګانو سمون، سيمنارونو او ورکشاپونو ته معرفي او اړوند نورو چارو کې د انصاف او عدالت اصل په پام کې نيول.

2. د ادارې او خدماتي کارمندانو د تقرر، جذب، امتیاز او ارتقاء په برخه کې د انصاف او عدالت اصل مراعات کول.
3. د محصلینو په ارزونه او نمرو ورکولو کې د انصاف او عدالت اصل تطبیقول.
4. د پوهنځي په ادارې او خدماتي کارمندانو، استادانو او محصلینو د لوړو زده کړو وزارت او مؤسسې د پالیسیو، مقررو او لوایحو د تطبیق په برخه کې د انصاف او عدالت اصل مراعاتول.
5. د بروشرونو، بینرونو او ویب سایټ له لارې د قوانینو او مقررو په اړه عامه پوهاوی رامنځته کول.

## د انصاف او عدالت په برخه کې د ښوونې او روزنې پوهنځي کړنې

### الف: د قانون د تطبیق او عملي کولو په برخه کې

لکه څرنګه چې قانون او د هغه یو شان تطبیق د هر سازمان او ادارې د تنظیم، پرمختګ او چارو د سمون لپاره زیات مهم دي نو پـه همدې خاطر د ښوونې او روزنې پوهنځي د ښه نظم، عدالت او انصاف په موخه تل په دې هڅه کې دي ترڅو د قانون د پلي کولو غوره لارې پیدا او د نهاد په ټولو سطحو کې یې یو شان تطبیق کړي.

### ب: د ادارې او خدماتي کارمندانو او استادانو د جذب اړوند پالیسي

1. د علمي کادر د اړتیا وړ بستونه د مؤسسې په ویب سایټ او فیسبوک پاڼو کې نشر کول او د آزادې سیالی له لارې د علمي کادر د غړو جذبول.
2. د ادارې کارمندانو بستونه میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې او پوهنځي په فیسبوک پاڼه نشرول او د کارمندانو تقرر د آزادې سیالی له لارې جذبول.
3. خدماتي بستونه د آزادې سیالی لپاره اعلان ته سپارل کیږي او یو کس د مهارتونو پر بنسټ ټاکل.
4. د علمي بستونو توزیع د څانګو د اړتیا د تشخیص له مخې د محصلینو د تناسب ۳۰/۱ د مضامینو شمیر، د استاد له مکلفیتونو سره د درسي ساعتونو مطابقت او د پوهنځي په تطبیقي پلانونو کې د ځای ورکولو له مخې صورت نیول.
5. په پوهنځي کې د ادارې بستونو د ویش موضوع د ادارو د اړتیا له سنجش، د کار حجم د کارمند او محصل د تناسب ۷۰/۱ د اړیکې له مخې په ادارې جلسو او په تطبیقي پلان کې ځای پر ځای کول.

### ج: د محصلینو، استادانو او کارمندانو تر منځ تناسب په برخه کې:

د ښوونې او روزنې پوهنځي د محصلینو، استادانو او کارمندانو ترمنځ تناسب د لوړو زده کړو وزارت د تضمین کیفیت د معیارونو په اساس ټاکي چې همدې اصولو ته په کتو د جذب او استخدام چارې تر سره کوي.

### د: د محصلینو د مونوګرافونو د لیکنې او لارښوونې په برخه کې:

د ښوونې او روزنې پوهنځي کې محصلین خپل د تحصیلي دورې پایلیکونه او مونوګرافونه د رهنما استاد تر لارښوونې لاندې تدوین، ترتیب او بیا دفاع کوي. لارښود استاد د یوه منظم میکانیزم له لارې خپلو محصلینو ته د عدالت اصل ته په کتو د مونوګرافونو د لیکلو او تدوین کولو رهنمایي کوي. هغه لارښود استاد چې محصل ته وخت نه ورکوي او د محصل سره لږ او سطحي همکاري کوي، محصل کولای شي په وړاندې یې د پوهنځي ریاست ته خپل شکایت وکړي. که پوهنځي د محصل شکایت ته رسیده ګي ونه شي کړای. محصل کولای شي خپل شکایت د پوهنځي پورې ورسوي. پوهنځي به د محصل شکایت ته په عادلانه او منصفانه توګه رسیده ګي کوي ترڅو چارې د انصاف په رڼا کې تر سره شي.

### ه: د استادانو او کارمندانو د ظرفیت لوړونې په برخه کې:

د ښوونې او روزنې پوهنځي تل هڅه کوي د خپلو استادانو او کارمندانو د اداري ظرفیت لوړونې لپاره مختلفي برنامې، ټرېنینګونه، ورکشاپونه او هم د مسلکي ظرفیت لوړونې لپاره د زده کړو مختلف پروګرامونه لکه لیسانس، ماسټري، دوکتورا... په لار واچوي. پوهنځي به ټول د ظرفیت لوړونې برنامې داسې تنظیموي ترڅو له یوه طرفه د پوهنځي په ټولو برخو کې د یو شان نوښتونه، پرمختګونه او لاسته راوړنو شاهدان و اوسو او له بل طرفه به د عدل او انصاف اصول او ارزښتونه عملي شوي وي تر څو په پوهنځي کې پرمختګ او ارتقاء رامنځ ته او ټولې اړتیاوې پوره شي.

### و: په درسي ساعتونو کې د انصاف او عدالت پالیسي:

په څانګو کې د ورځنیو درسونو ویش د استادانو د علمي مکلفیت له مخې او د لوړو زده کړو وزارت د لوایحو مطابق پر مخ وړل او هغوی ته د تخصص له مخې د مضامینو ویش ترسره کول. په دې برخه کې د پوهنځي علمي شورا د عدالت له تأمین څخه نظارت کوي او متضرر استادان کولای شي چې خپل شکایت د پوهنځي له رئیس، علمي مرستیال، د مؤسسې له رئیس سره شریک کړي او یا هم په رسمي ډول د شکایاتو په صندوق کې خپل لیکلی شکایت درج کړي.

### ز: د لنډ مهاله بورسونو د توزیع په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي:

د ښوونې او روزنې پوهنځي د لنډ مهاله او اوږد مهاله بورسونو د توزیع په برخه کې استادانو او اداري کارمندانو ته ونډه ورکوي تر څو د استادانو او اداري کارمندانو ظرفیتونه لوړ کړي.

### ز: د نتایجو د شفافیت په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي:

1. د سمیسټر منځنی آزموینه: د پوهنځیو یا هم د پوهنتون په کچه چې د آزموینې کمیټې شتون لري چې د نوموړو کمیټو لخوا د منځنۍ سمیسټر آزموینه د لوړو زده کړو وزارت د طرزالعمل او هدایت مطابق تنظیم او پریکړه کوي.
2. د سمیسټر وروستی آزموینې لپاره د مؤسسې او یا هم د پوهنځیو د آزموینو کمیټې د لوړو زده کړو وزارت د طرز العمل او هدایت مطابق پریکړه کوي. یادې کمیټې د هر امتحان له صحنې څخه لیدنه کوي او خپل ورځنې راپورونه د کمیټې په مربوطه کتابونو کې رسوي او د آزموینو په پای کې د هري پوهنځي د آزموینو کمیټه مکلفه ده چې خپل توحیدي راپور د مؤسسې د آزموینو کمیټې ته وسپاري. د آزموینو کمیټه د پوښتنو د جوړولو له ډول، د آزموینې د صحنې داخلي نظم، د آزموینې وخت، د آزموینې پر وخت پیل، په آزموینه کې د ممتحن او ممیز شتون، د محصلینو رضایت، د ټولو محصلینو شمیر، په امتحان کې د شامل محصلینو شمیر او د امتحان مناسبې فضا څخه ډاډ تر لاسه کوي.

3. د آزموینو نتایج د پوهنځیو د تدریسي مدیریت له لوري د آزموینو د رسمي ختمیدو وروسته اعلانیږي او متعرض محصلین کولای شي، چې د شقي د اعلان څخه تر دریو ورځو پورې د عدم قناعت شکایت ثبت کړي یاد شکایت د دریو استادانو لخوا د شکایت کوونکي محصل په شتون کې څېړل کیږي.
4. د لوړو زده کړو وزارت د طرزالعمل مطابق د ښوونې او روزنې پوهنځي ټول استادان مکلف دي چې د آزموینو نمرې تر دریو ورځو پورې اعلان کړي.

## ط: د ټولنیزو اخلاقو د رعایت لپاره د انصاف او عدالت پالیسي

د ښوونې او روزنې پوهنځي د ټولنیزو اخلاقو نه رعایت کولو د مخنیوي په موخه د رهبري، اداري کارمندانو، استادانو او محصلینو لپاره د اخلاقو ځانګړي پالیسي ترتیب کړي ده او د پوهنځي د رهبري شورى له تأیید وروسته به یې له استادانو،محصلینو او کارمندانو سره شریکه کړي، په چاپي ډول به یې د پوهنځي په بیلابیلو برخو کې نصب کړي او همدارنګه د پوهنځي /مؤسسې د ویب سایټ له لوري به نشر شي.

## ظ: د شکایتونو د ارزونې لپاره د انصاف او عدالت پالیسي

د ښوونې او روزنې پوهنځي مؤسسې د نظم، ډسپلین او شکایاتو ته د رسیدنې کمیټې له لوري د شکایاتو د اوریدلو طرزالعمل ترتیب شوي دي، چې یاد طرزالعمل د پوهنځي په رهبري شورا کې تائید او له هغې وروسته به ځانګو ته ولیږل شي. یاد طرزالعمل به پر بینرونو، ویب سایټ او د برېښنایي شبکو له لارې نشر شي چې پکښې د محصلینو، اداري کارکوونکو او استادانو لپاره د شکایت کولو ځانګړي اصول بیان شوي دي او همدارنګه د شکایت فورمه شتون لري، تر څو په یاده پروسه کې په بشپړ ډول شفافیت رامنځته شي.

## ص: د اضافه کاري لپاره د انصاف او عدالت پالیسي

د ښوونې او روزنې پوهنځي د اداري کارمندانو، خدماتي کارمندانو، د شب باشانو، فني او تخنیکي کارکوونکو اضافه کاري د هغوی د ښه خدمت په موخه دمستقیم آمر د تأیید وروسته دوی ته ورکول کیږي.

## ی: د استادانو، کارمندانو او محصلینو لپاره په حاضري کې د انصاف او عدالت پالیسي

1. د لوړو زده کړو وزارت د قانون پربنسټ د استادانو حاضري د درسي تقسیم اوقات او په کمیټو کې د ګډون له مخې حسابیږي او هر استاد همدا برنامه په خپل انفرادي پلان کې ځاي پر ځاي کوي.
2. د کار قانون له مخې ټول اداري او خدماتي کارمندان د شنبې تر پنجشنبې هره ورځ د کار او ټولنیزو چارو وزارت د اصولو او پالیسي مطابق باید په خپله وظیفه کې حاضر وي. هغه اداري کارمندان چې د خپل آمر له اجازې پرته دندې ته رسیده ګي ونه کړي غیر حاضر حسابیږي.
3. محصلین د خپل درسي وخت له مخې مکلف دي درسونو ته حاضر شي. هر استاد ځانته حاضري لري او کوم محصلین چې شتون ونه لري، غیرحاضر حسابیږي. په آزموینه کې د محصل ګډون د کریډیټ لایحې مطابق محصلین د ۷۵ سلنه حاضري پربنسټ باید حاضر وي او د ۲۵ سلنه څخه زیاته غیرحاضري په صورت کې محصل محروم شمیرل کیږي.

**ک: د تدارکاتو په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي**

د ښوونې او روزنې پوهنځي تدارکات د همدې مؤسسې د مالي او اداري چارو معاونیت، د تهیه او تدارکاتو د مدیریت په مرسته د ځانګړې طرزالعمل له لارې تنظیمیږي. د تدارکاتو مدیریت د هر اداري واحد لپاره ځانګړي فورمې لري او د همغې فورمو له مخې یې اړتیاوې بشپړوي.

**ل: د مکافاتو او مجازاتو په برخه کې د انصاف او عدالت پالیسي**

د ښوونې او روزنې پوهنځي د مکافاتو او مجازاتو اصل ته پابنده مؤسسه ده او د خپلو مالي امکاناتو له مخې چې په واک کې یې لري د استادانو او کارکوونکو د ملاتړ لپاره یې په کار اچوي.

**م: د استادانو د تحقیقي مزد د ورکړې په برخه کې د عدالت او انصاف پالیسي**

د ښوونې او روزنې پوهنځي د استادانو د څیړنو، د تألیف، د علمي فعالیتونو د حق الزحمې په برخه کې پلان لري تر څو د هغوی مزد ورکړې او همدارنګه د استادانو د څیړنو، مقالو، ژباړو، علمي آثارو د نشر او پخش په موخه علمي امکانات چمتو کړي.

## د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي آزادۍ پالیسي:

د انسان له ځانګړنو څخه یوه ځانګړنه چې لوی خدای ورته د نعمت په توګه ورکړې ده، هغه د هغه آزادي ده، انسان آزاد پیدا شوی او باید آزاد ژوند وکړي. خو د طبیعت او حالاتو د قوانینو پر بنسټ د انسان کړنې لامحدود نه دي او د نسل د ژوندي پاتې کیدو او د انساني کرامت او حقونو د ساتلو لپاره په ځینو شرایطو کې محدود دي. د ښوونې او روزنې پوهنځي هم د پوهې، تخصص او حکمت د تولیدونکو په توګه او همدارنګه د بشري پوهې د خپرونکو په توګه باید قانوني آزادي ولري. لکه څرنګه چې د ښوونې او روزنې پوهنځي یو علمي مرکز دی چې ځیني وخت بیړنۍ دندې ترسره کوي، د پراختیا، خلاقیت، نوښت، د زده کړې ودې، څیړنې او د پوهې تولید په برخو کې د علمي نهادنو د خپلواکۍ اغیزمنتوب په نړۍ کې ثابت شوی دی. د پوهنتونونو خپلواکي که څه هم په قانون او لوایحو کې د هغو ګامونو په پام کې نیولو سره معقوله ده چې د دې مقام د لاسته راوړلو په موخه وړاندې شوي، خو په علمي او مالي برخو کې د لوړو زده کړو وزارت او یا نورو ادارو له مدیریت او کنټرول سره مطابقت نه لري.

د پوهنتونونو په چوکاټ کې چارواکي دغه مداخلې په ځینو چارو کې د خپلو ګټو تر څنګ د علمي خپلواکۍ روحیه هم بې روحه کړې ده. هر پوهنتون کولای شي د مقرراتو او اکاډمیکو اصولو په پام کې نیولو سره په خپلواکه توګه عمل وکړي. د لوړو زده کړو د ملکي قانون درې دیرشمې مادې د دریېمې فقرې له مخې: هیڅ دولتي او غیردولتي ارګان نه شي کولای د وزارت او د لوړو زده کړو د مؤسسو په علمي او اکاډمیکو چارو کې لاسوهنه وکړي او ددې په تعقیب څلورمه فقرې له مخې ددې مادې په (۱، ۲، ۳) فقرو کې له درج شویو احکامو څخه سرغړوونکي د عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي. په پورتنیو مادو کې د اکاډمیکو آزادیو تضمین شوي، د اکاډمیکو آزادیو دغه پالیسي به د پوهنځي د رهبري شورا وروسته په ښوونه او روزنه پوهنځي کې د تطبیق وړ شي.

**د لوړو زده کړو د ملکي قانون د ۳۳ مادې اوله، دوهمه او دریمه فقره:**

1. د لوړو زده کړو مؤسسه هغه علمي مرکز دی چې تاکلي دندي په غاړه لري او له هر ډول سیاسي، مذهبي، قومي، سمتي او ژبنیو فعالیتونو څخه خوندي ده.
2. د لوړو زده کړو د مؤسسې هیڅ کارکوونکی، له جملې یې علمي او اداري کادر غړي نه شي کولاي د تدریس، علمي اداري فعالیتونو او کاري روابطو له لارې د خپلو ډله ییزو او سیاسي موخو په منظور، نفوذ او ګټه اخیستنه ترسره کړي.
3. هیڅ دولتي او غیردولتي ارګان نه شي کولاي د لوړو زده کړو د وزارت او مؤسسې په علمي او اکاډمیکو چارو کې لاسوهنه وکړي.

**اهداف:**

**عمومي هدف:** د علمي کادر غړیو لخوا په پوهنځي کې د ریښتیني علمي فضا رامنځته کولو لپاره د قوي ارادې بیا راژوندي کول او د لوړ کیفیت او غوره ښوونې او روزنې لپاره هڅې کول.

**خاص اهداف:**

1. په پوهنځي کې د علمي آزادی مفکوري بنسټیز کول.
2. په پوهنځي کې د علمي آزادی په وړاندي د قضیو پیژندل.
3. په پوهنځي کې د علمي ازادی د غوښتنو پیژندل.

**اهمیت او ضرورت:** د لوړو زده کړو په ټولو مرکزونو کې علمي آزادي یو له بنسټیزو اړتیاوو څخه ده او د علمي بنسټونو د ودې لامل ګرځي. له بده مرغه کله ناکله په علمي بنسټونو کې داسي سرغړونې رامنځته کیږي چې استادان او محصلین او علمي بنسټونه ترې ځوریږي، نو اوسنی پالیسي د علمي آزادی د بنسټیز کولو لپاره جوړه شوي ده.

**لومړی ماده:**

**لومړی فقره: د علمي او اکاډمیک آزادی تعریف:**

علمي آزادي د لوړو زده کړو قانون د دریمي مادي د یوولسمې فقري له مخې دا ډول تعریف شوي ده: د منل شویو علمي تګلارو (روشونو) او معیارونو پر بنسټ د علمي نظریو آزادانه وړاندي کول دي.

**دوهمه ماده :**

**اوله فقره:** دغه پالیسي د لوړو زده کړو وزارت د ملکي قانون د دریمي مادي یوولسمي فقري ته په پام سره وضع شوي ده.

**دریمه ماده:**

**لومړی فقره: د اکاډمیکي آزادی اصلي ساحي:**

د علمي او اکاډمیکي آزادی تر ټولو اساسي عناصر عبارت دي له: څوک تدریس کوي، څه تدریس کیږي، څنګه تدریس کیږي، څوک د مطالعې اجازه لري. د علمي آزادی، د پوهنتونونو او څانګو د خپلواکی تر منځ د توپیرونو او داخلي اړیکو د روښانه کولو لپاره اړینه ده چې د علمي ازادی په پام کې نیولو سره چې د ښوونې او روزنې پوهنځي په ستراتیژیک پلان کې په واضح ډول ذکر شوي، چې په راتلونکو کلونو کې به لاندي خالیګاوي ډکي شي:

- د علمي کادر غړو د استخدام او کادري آزموینې اخیستنې صلاحیت ترلاسه کول.

- د علمي کادر غړو د تقرر لپاره د ژوري هیئت د ټاکلو صلاحیت درلودل .
- په علمي کنفرانسونو کې برخه اخیستل او د مخته وړونکي په توګه د دوي ارزونه.
- د علمي مقالو لپاره د تقریظ لیکلو وړتیا پیداکول.
- د میرویس خان نیکه زابل دلوړو زده کړو د مؤسسې په علمي مجله کې د علمي مقالې د خپرولو لپاره د وړتیا ترلاسه کول.
- په معتبرو نړیوالو ژورنالونو کې د علمي مقالو په چاپ او خپرولو کې د ښوونې او روزنې پوهنځي د غړو وړتیا ترلاسه کول.
- د اکاډمیکو معیارونو سره سم د اکاډمیکو کارمندانو د علمي کارونو د محتوا او بنې ارزونه.
- په ملي اونړیواله کچه د تفاهم نامو ترسره کول.
- د لوایحو، طرزالعملونو، مقرراتو او نورو تقنیني اسنادو په جوړولو او تغیرولو اړوند غونډو کې ګډون کول.
- د څانګو سربیره د نصاب او یا درسي کریکولم د نوي کولو لپاره د لازمي وړتیا درلودل.
- د خپلواکه څیړنو او علمي سروې ګانو ترسره کول.
- د درسي کتابونو لیکل، د مضامینو تدریس او د رهنما استاد تر نظر لاندي تدریس کې اشتراک کول.
- د علمي مقالو لیکل.
- په کمیټو کې فعاله ونډه، په اکاډمیکو چارو کې ګډون، لیسو او پوهنتونونو ته د خدمتونو وړاندې کول.
- د څانګې او مؤسسه په کچه د لکچر نوټونو، تدریسي موادو او نصاب چمتو کول.
- د ښوونې او روزنې د کیفیت په لوړولو کې فعاله ونډه اخیستنه.
- د رهنما استاد په توګه په علمي سمینارونو او مونوګرافونو کې د محصلینو رهنمایي کول.
- د علمي آثارو ژباړه.
- د پروفیسور رهنما استاد تر څارنې لاندي د څیړنې او علمي سروې ګانو ترسره کول.
- د علمي ترفیعاتو د مراحلو طې کول.
- د علمي شورا درلودل.
- د څانګې په کچه د نصاب نوي کول.
- علمي ترویج.
- د هیواد په کچه د تواميتونو او تفاهم نامو ترسره کول.
- د ماسټرۍ او دوکتورا پروګرامونو د پیلولو په موخه هڅې او کوښښونه کول.
- د قانون سره سم د علمي آزادیو ملاتړ کول.
- د قانون سره سم له علمي پوستونو څخه ګوښه کول.
- د فارغینو او د کار د بازار په تناسب د محصلینو استخدام کول.
- د عامه او خصوصي کانکور آزموینو په ترسره کولو کې د نظارت ترسره کول.
- د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي کلیزې جوړول (د پسرلني او منې د سمیسترونو پیل او پای، رسمي رخصتي، د منځنیو او پای سمیسټرونو د آزموینو پیل او پای او نور اړوند مسایل پکښې ښودل کیږي).

**څلورمه ماده:**

## د کادري غړیو علمي آزادي:

1. د ښوونې او روزنې پوهنځي اداري او علمي کارمندان او محصلین د علمي آزادی څخه په داسي طریقه کار اخلي چې د مسؤولیت زده کړې او څیړنې سره مطابقت ولري او د پوهې په تولید او خپرولو کې برخه واخلي.

2. ټول علمي نظرونه او بیانونه باید په عقلاني او منطقي توګه د ښه نیت او وضاحت سره څرګند شي او له هر ډول تاوتریخوالي، توهین او تعصب څخه پاک وي.
3. د علمي آزادۍ د بیان حدود تر هغه حده دي چې د غیرقانوني فعالیت لامل نه شي او د نورو علمي غړو او محصلینو علمي آزادۍ ضعیفه او له ګواښ سره مخ نه کړي.
4. د علمي غړو علمي او څېړنیز فعالیتونه او د دوي پایلې د ښوونې او روزنې پوهنځي د ښه شهرت او د مؤسسې د کاري ساحو په اړه د عادلانه قضاوت سره سم ساتل او پیاوړي کیږي.
5. د مؤسسې د اکاډمیکو غړو علمي آزادۍ ته ژمنتیا کولای شي د ټولنې مطلوب ارزښتونو ته وده ورکړي او په صادقانه او مسؤولیت پذیره توګه سره د ټولنیزو مشکلاتو او غلطو باورونو باندې په نیوکې او ننګونې سره د پوهې سرحدونه پراخ کړي.
6. د ښوونې او روزنې پوهنځي ټول اکاډمیک غړي د حقوقي مقرراتو په چوکاټ کې د دیني او ملي ارزښتونو په ساتلو سره پرته له دې چې د مؤسسې په لومړیتوبونو کې مشکل واقع شي د څېړنیزو، علمي او انتقادي بحثونو په ترسره کولو کې آزاد دي.
7. د اکاډمیکو آزادیو څخه د سرغړونې، او د اکاډمیکو آزادیو په مسؤولانه تطبیق کې د شخړو او تناقض په صورت کې به مؤسسه موضوع د نظم او ډسیپلین کمیټې له لارې حل کوي او د موجوده مقرراتو سره سم اړین اقدامات به ترسره کړي.
8. اکاډمیک غړي د منل شویو علمي معیارونو سره سم په تدریس، تحقیق او تعلیمي چارو کې د آزادۍ حق لري.
9. د اسلامي او ملي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره له څېړنو څخه د ترلاسه شویو حقایقو او نتایجو د بیان آزادي.
10. د لوړو زده کړو د قوانینو او د مؤسسې او پوهنځي د پالیسیو په رڼا کې د ملي او نړیوالو اکاډمیکو بنسټونو او سازمانونو سره په آزاده توګه اړیکه درلودل.
11. د نظر څرګندولو آزادي په پام کې نیولو سره په نصاب او تعلیم کې سمون او مثبت بدلونونه.
12. د تائید شوي نصاب او درسي مفرداتو په نظر کې نیولو سره د درسي معیارونو او د نظم او اخلاقو له پالیسی سره سم د ټولګي په اداره کې د استادانو د عمل آزادي.
13. د اسلامي ارزښتونو او اخلاقي اصولو سره سم د نوي نظرونو او پوښتنو وړاندیز کولو لپاره د زړورتیا او وړاندې کولو آزادي.
14. د ټولنې په کچه د علم او پوهې د خپرولو په هڅه کې آزادي.
15. په مؤسسه کې د سازماني کړنو خپلواکي.
16. په تخصص پورې اړوند علمي موضوعاتو کې د نظر څرګندولو آزادي.
17. د پوهنځي د علمي شورا له تصویب وروسته د ګټورو تدریسي میتودونو په کارولو کې پر استاد هیڅ ډول بندیز نشته.
18. د لوړو زده کړو قانون په نظر کې نیولو سره د څېړنو د موندنو او پایلو په وړاندې کولو کې آزادي درلودل.
19. په علمي غونډو لکه کنفرانسونو، سمینارونو، ورکشاپونو او داسې نورو کې د درسي تقسیم اوقات په پام کې نیولو سره د ګډون آزادي درلودل.
20. د مؤسسې اړوند په انجمنونو/مجالسو او کمیټو کې د ګډون آزادي درلودل.
21. د نورو خلکو په کارونو د علمي انتقاد آزادي درلودل.
22. په تخصصي او اړوند برخو کې د ابتکارونو او نوښتونو د طرحو د اراءیه کولو آزادي درلودل.
23. نوري آزادۍ چې له قوانینو، طرحو، مقرراتو او طرزالعملونو سره په ټکر کې نه وي.
24. اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون له مخې اطلاعاتو ته د لاسرسي حق درلودل.
25. د کار قرارداد او د اړتیا په صورت کې د حادثې کتاب ته د لاسرسي حق درلودل.

**پنځمه ماده:**

**محصلینو آزادي:**

1. د رشتي غوره کولو او د کریډیټ لایحي سره سم د نصاب غوره کولو کې آزادي.
2. له اسلامي او ملي ارزښتونو سره سم د مونوگراف او څیړني په انتخاب کې آزادي.
3. د مؤسسې د پالیسیو په رڼا کې د محصلینو په اتحادیو، ټولنو او ضرورت اړوند کمیټو کې د گډون آزادي.
4. د علمي اصولو پر اساس د نورو نظرونو باندي د انتقاد کولو آزادي.
5. د نظم او انضباط په کمیته کې د محصلینو د استازي غړیتوب او د اشتراک حق.
6. د استادانو او د مؤسسې د کارکوونکو پر کړنو د علمي نقد او نظر څرگندولو حق.
7. د استادانو او کارمندانو په مختلفو ارزونو کې د گډون حق.
8. د آزموینې د مقرراتو سره سم د وروستی آزموینې نمرو ته د تجدید نظر حق.
9. د محصلینو لپاره د مؤسسې ټولو آسانتیاوو ته د مساوي لاسرسي حق.
10. د مؤسسې په ستراتیژیکو پلانونو او نورو پروگرامونو کې د نظر څرگندولو حق.
11. د علمي څیړنو په کمیته کې د گډون او د علمي څیړنیزو چارو په اړه د نظر څرگندولو حق.
12. د مؤسسې د لوایحواو قوانینو مطابق د علمي غړي په حیث باندي ټولو اړوند اسنادو او مدارکو ته د لاس رسي حق.
13. د تحصیل د دورې په جریان کې نمرو ته د لاسرسي حق.
14. تعلیمي ریکارډونو ته د لاسرسي حق او د تعلیمي سندونو او کاري تصدیق ترلاسه کولو حق.
15. د مؤسسې په کچه د صنفي کمیټې د غړیتوب حق.

**شپږمه ماده:**

**ددي پالیسی د احکامو سره د نه عمل کولو پایلې**

لومړی فقره: د ښوونې او روزنې پوهنځي د ټولو کارکوونکو او محصلینو له خوا له قوانینو، لایحو، طرزالعملونو او پالیسیو څخه هر ډول سرغړونې به د اړوندو قانوني اسنادو سره سم وڅیړل شي او مجرم ته به د هغه د عمل مطابق سزا ورکړل شي.

دوهمه فقره: که د دي کړنلارې له احکامو څخه سرغړونه وشي او د مجرم لپاره مجازات په نورو قانوني اسنادو کې ذکر شوي نه وي، د سرغړونې د اندازي سره سم لاندي تصمیم نیول کیږي:

- شفاهي توصیه
- لیکلي توصیه
- شفاهي خبرداری
- لیکلي خبرداری
- لنډ مهاله کسر معاش تر پنځو(۵) ورځو پورې (د مؤسسې علمي کارمندانو لپاره)
- اوږد مهاله کسر معاش تر لسو (۱۰) ورځو پورې (د مؤسسې علمي کارمندانو لپاره)
- د اعظمي څلور ورځو لپاره لنډمهاله گوښه کول (د محصلینو لپاره)
- بلې اداري ته اجباري لیږد (د محصلینو لپاره).

## د ښوونې او روزنې پوهنځي اخلاقي پالیسي:

د ښوونې او روزنې پوهنځي داسي يو علمي چاپيريال دی چې پکښې لسګونه استادان، سلګونه محصلين او يو شمير اداري او خدماتي کارمندان په تدریس، زده کړه او خپلو خلکو ته په خدماتو وړاندي کولو بوخت دي. په داسي يو چاپيريال کښي د رسمي قوانينو، مقرراتو، لايحو او طرزالعملونو ترڅنګ د اخلاقي اصولو جوړښت او موجوديت چې د موجوده قوانينو په رڼا کښي جوړ شوي وي، حتمي او ضروري ګڼل کيږي. په وروستيو کلونو کښي په پوهنتونونو کښي د محصلينو تعداد زيات شوي دي او يو نوي رنګ يې اخيستی دی، په داسي حالت کښي د تدوين شوي قوانينو ترڅنګ د اخلاقي اصولو او پاليسيو شتون کولاي شي چې تر ډيره د مؤسسې ستونزي حل کړي.

علمي بنسټونه د تحصيلي خدماتو د وړاندي کولو او اکاډميک محيط د رامنځته کولو مسؤوليت لري. د داسي محيط له پاره ځيني قواعد او اصول په ملي او نړيواله سطحه تعريف شوي دي او په تحصيلي بنسټونو کښي تطبيق کيږي. د نوموړي اصولو په تطبيق سره د اکاډميکو او غيراکاډميکو محيطونو ترمنځ توپير واضح کيږي او د غير اکاډميک محيط له پاره به الهام بخښونکي واوسي. د يو تحصيلي مرکز له پاره اړينه ده چې د ملي او نړيوالو نورمونو په تعريف او تطبيق سره داسي چاپيريال رامنځته کړي، چې وکولاي شي د شفافيت، تعادل، زده کړي او علميت د نښانو څخه ډک او پکښي د ټولو له پاره د جذابيت او قناعت نقاط نغښتي وي.

د يوه علمي چاپيريال د پورته ذکر شوي ارزښتونو او اړتيا ته په کتو سره د ښوونې او روزنې پوهنځي د خپلو استادانو، اداري کارمندانو، او محصلينو له پاره اخلاقي پاليسي ترتيب کړي او د تطبيق له پاره يې په پوره ژمنتيا سره هڅي کوي ترڅو د يوه عملي چاپيريال په درلودلو سره د ټولنې په وړاندي خپل مسؤوليت اداء او د محصلينو د مسلکي روزنې سربيره د علمي او باکفيته اخلاقو ترويج او هم تضمين کوي. د ښوونې او روزنې پوهنځي اخلاقي پاليسي د تضمين کيفيت د ۳م اصلي معيار او ۴م فرعي معيار پر بنسټ او د لوړو زده کړو وزارت د نظم او ډسپلين د لايحي مطابق ترتيب شوي ده.

د ښوونې او روزنې پوهنځي اخلاقي پاليسي د لاندي لسو اهدافو له پاره تنظيم او تطبيق کيږي:

1. اسلامي مقدساتو او اصولو ته درناوی
2. د علمي نورمونو تطبيق
3. بشريت ته احترام
4. د اسلامي شريعت د قانون په اساس جنسي تعادل
5. د هر ډول فساد څخه مخنيوي
6. د سالمو انتقادونو منل
7. د واسطه بازۍ او قومي چلند څخه مخنيوي
8. د صميمت او همدلۍ فضاء رامنځته کول
9. ژمنو ته وفادراه پاتي کيدل او د ګډ کار له پاره د مناسب چاپيريال رامنځته کول
10. په اداره کښي د همغږۍ د اصل تطبيق او پالل

### د رهبرۍ د غړو لپاره اخلاقي معيارونه:

د اخلاقو تعريف: د اسلام له نظره اخلاق د انساني سلوک د هغو قواعدو او مبادیو مجموعه ده چې مصدر او اساس يې الهي وحي وي، دا قواعد د انسان ژوند تنظيموي او په داسي ډول له نورو سره دده د تعامل تګلاري او حدود ټاکي.

یعني اخلاق له " الهي وحي " راوتلي هغه قواعد دي چې هم د انسان ژوند تنظیموي او هم یې د نورو سره د تعامل حدود ټاکي، دا ټول په داسي ډول چې نړۍ ته د انسان د راتګ اصلي هدف پر ځای شي.

**لومړۍ ماده:**

د ښوونې او روزنې پوهنځي د رهبري غړي د فوق العاده اهمیت وړ دي، ځکه د یوې سالمې ادارې په رأس کې قرار لري. په همدې اساس د رهبرې د غړو له پاره د لاندې مواردو مراعت کول اړین بلل کیږي:

1. د ښوونې او روزنې پوهنځي د رهبري تر لاس لاندې (استادان، اداري کارکوونکي او محصلین) اشخاصو ته د یو منظم او اکاډمیک چاپیریال د برابرولو دنده لري.
2. د پوهنځي مشرتابه د غوره اشخاصو په ګمارلو، د فساد څخه د خلاصون، د اخلاقي او اداري فساد پر وړاندې د کلکې مبارزې په برخه کې خپلې هڅې کوي.
3. د پوهنځي رهبري اړخ باید اخلاقي ارزښتونو ته په هره برخه کې ځای ورکړي.
4. د پوهنځي رهبري باید د اخلاقي ارزښتونو د روان تابع وي او د تقرر، ترفیع او امتیازاتو پوره ملاتړې وي.
5. د پوهنځي رهبري، چې هر کله د اخلاقي معیار څخه خلاف یو عمل ووینې، باید له استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو سره قانوني چلند وکړي.
6. د پوهنځي رهبري باید د سلسله مراتبو اصل په نظر کې ولري. همدارنګه د لوړ اخلاقي معیار لپاره هڅې وکړي او ټول اشخاص خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړي. په هره تحصیلي دوره کې باید محصلینو ته د خپلې مؤسسې ټول مقرارت ور وپېژني او د هغوی څخه تعهد واخیستل شي تر څو د تحصیل په جریان کې د ښوونې او روزنې پوهنځي د پالیسي سره سم خپله تحصیلي دوره پای ته ورسوي.

**دوهمه ماده:**

سالمه اداره هغه اداره ده، چې اخلاقي اصول او ضوابط عملي کړي نو په همدې خاطر پوهنځي ټول اداري کارکوونکي، استادان او محصلین په دې آمر کړي، چې دوی هم دغه لاره تعقیب کړي، تر څو یوه بانظمه اداره رامنځته شي.

**دریمه ماده:**

د پوهنځي رهبري او مشرتابه باید خپل نظر پر نورو تحمیل نه کړي، نور هم له دې لارې منع کړي او په یوه اکاډمیکه ساحه کې د صمیمیت، غوره اخلاقو، ښه تدریس، ښې روزنې او علم فضاء خپره کړي.

**څلورمه ماده:**

کوم وخت، چې د رهبرې هر غړی له پورته مواردو څخه سرغړونه وکړي، د لوړو زده کړو د مقرارتو له مخې باید اړوندو مسؤلینو ته جواب ورکړي.

**د استادانو له پاره اخلاقي معیارونه:**

**پنځمه ماده:**

استاد په علمي او اکاډمیک ماحول کې تر ټولو مهم او وړ کس دي. استاد په ټولنه کې تر ټولو عالي شخصیت بلل کیږي. په یوه اکاډمیکه ساحه کې استاد باید د خپلې دندې د ښه ترسره کولو له پاره لاندې موارد مراعت کړي:

1. څرنگه چې استادي یوه سپیڅلې دنده ده نو باید ددې مقدسې وظیفې د حیثیت ساتلو لپاره استادان د ټولنې لپاره ځانونه یوه نمونه جوړ کړي یعنې صورت او سیرت د اسلامي شرعیت سره سم جوړ کړي.
2. خپلې دندې ته وفاداري او خپله دنده په ایمانداري ترسره کول د استاد له اکاډمیکو اخلاقو څخه شمیرل کیږي.
3. استاد باید تقواداره، اخلاص مند او د خپل مسلک سره پوره بلد وي، که کوم وخت استاد پورته موارد په ځان کې عملي نه کړي، محصلین له استاد څخه هیڅ نشي تر لاسه کولای.
4. استاد چې کوم وخت محصلینو ته تدریس کوي، باید په پوره اخلاص او ایمانداري یې ترسره کړي. کله چې محصلینو ته تدریس کوي، باید داسې برخورد ونه کړي، چې د استاد حیثیت ورسره له منځه ولاړ شي.
5. استاد باید په خپله ښوونه کې رېښتنی وي څکه علمي مطالب پوره دقت او اصلي منابع غواړي.
6. استاد باید د قانون او وخت پابند او لوړ اهداف ولري.
7. استاد باید هر وخت د عدالت پلوی وي او له محصلینو سره بې عدالتي ونه کړي او هیڅ وخت خپل لوړ مقام تر پوښتنې لاندې رانه ولي.
8. استاد باید له خپلو همکارانو، هم مسلکو، اداري کارکوونکو سره د مینې، وروری، عاطفي له مخې اړیکې ولري او اړیکې یې باید د اخلاقو پر معیار برابري وي.
9. استاد باید هیڅکله غرور، تکبر، حسد، سخت خوی، تعصب (سمتي، قومي، نژادي، جنسي، ژبنیز...) او له غوره اخلاقو بده استفاده ونه کړي . په ټولنه کې باید غیري شرعي یا هم غیري اسلامي او انساني اعمال تر سره نه کړي.
10. استاد باید له ټولو استادانو، کارمندانو او محصلینو سره ښې اړیکې ولري، پر هیڅ کس او فرد باید مسخري ونه کړي ( شخصیت وژنه) او توهین ونه کړي.
11. استاد د تدریس سره سره باید محصلینو ته غوره او نیکې لارښوونې وکړي او هر وخت پر شریعت التزام، ښو اخلاقو، تواضع، مقابل احترام او مؤمن دوستی باندې تأکید وکړي.
12. استاد باید د خپلو احساساتو او نظر مطابق تدریس ونه کړي، بلکې د تدریس د میتود له مخې درس ورکړي، تر څو محصلین په ښه شان زده کړه یا پوهه تر لاسه کړي.
13. استاد باید ډېر مهربانه او زړه سواند واوسي، د خپلو محصلینو په پرمختگ او کامیابي خوشحاله وي، هر وخت یې تشویق کړي او له تحقیرولو څخه یې ځان وساتي.
14. استاد باید انتقاد کوونکی او د هغه منونکی وي.
15. استادان یوه مقدسه دنده پرمخ وړي، نو باید ډیره حوصله، استقامت ولري، تر څو دغه سپیڅلی رسالت یې سم پر مخ وړی وي.
16. استاد باید د محصلینو د مشکلاتو د حل لپاره مرستندوی وي او هیڅ ډول مرسته له زده کوونکو ونه سپموي.
17. استاد باید نوښتگر وي، تر څو په خپل مسلک کې نوي او مفید معلومات تر زده کوونکو پورې ورسوي.
18. استاد باید هر وخت د محصلینو د راز ساتونکی وي.
19. وفاداري او ریښتنولې د استاد خاص صفت دی نو استاد باید لومړیتوب ورته ورکړي.
20. استاد باید له هر ډول تبعیض څخه خلاص وي، ټول محصلین یوشان وبولي، یوازې هغه محصلین غوره وبولي، چې په خپلو درسونو کې پوره کوښښ کوي او غوره اخلاق ولري.
21. استاد په پوهنځي کې د رهبري په مقام کې ځاي لري نو په دې اساس استاد د ژبې او قلم ابرو او عزت دي، هر څوک چې له استاد څخه زده کوي، په ټولنه کې پر هغه حساب کیږي.

22. استاد د زده کوونکو نظریات اوري، د ښه نظر ستاینه کوي او کم رنګه نظر په سالم ډول اصلاح کوي.
23. استاد په پوهنځي کې د محصلینو ټول حالت درک کوي او د هر محصل ضعف او قوت نقطې ورته معلومیږي، نو د وخت په تیریدو باید د ټولو کمزورو نقاطو د اصلاح له پاره کار وکړي.
24. استاد باید هر محصل درک کړي ، د هر یوه محصل رفتار، خبرې او چلند باید وګوري او وپېژني.
25. استاد باید د محصلینو په ستونزو باندې ځان خبر کړي او د امکان تر حده په ستونزو کې مرسته ورسره وکړي او مشکل یې حل کړي.

**شپږمه ماده:** کوم وخت چې استاد له پورته مواردو څخه سرغړونه وکړي د لوړو زده کړو د مقرراتو له مخې باید اړوند مسؤولینو ته ځواب ورکړي.

## د اداري کارکوونکو له پاره اخلاقي معیارونه:

**اوومه ماده:**

اداري اخلاق، امانت ساتل، ښه خدمت کول، مسؤولیت پیژندل، اصولي چارې ترسره کول، انساني مینه ( الحب فی الله والبغض فی الله)، د عدالت پلوي او داسې نور اصول چې د ښوونې او روزنې پوهنځي یې د خپلو ادارې کارمندانو لپاره غوره ګڼي.

لاندې څو مهم ټکي دي، چې د لوړو زده کړو مؤسسې د یو کارمند لپاره اړین دي:

1. د اسلامي شریعت احکامو او غوښتنو ته التزام او له هر ډول غیر اخلاقي کړنو څخه پاک وي.
2. وخت پیژندونکی، مسؤولیت پیژندونکی او په کاري ساحه کې ډیر آرام شخصیت وي.
3. د اداري اسناد ساتونکی وي.
4. د نظم او ډسپلین پوره مراعات کوونکی وي او په کاري ساحه کې منظم وي.
5. د هغو کسانو سره چې مؤسسې ته د یو کار د اجراء لپاره راځي په ښه رویه او سلوک کار ورته وکړي.
6. په کارونو کې چټک او دقیق وي.
7. تل د خپل کار په اړه معلومات ولري، د نورو مشورې واوري او مشورې ورکړي.
8. د خپلو همکارانو په کارونو کې پوره همکار وي.
9. انتقاد او وړاندیز کول باید په ښه ډول ترسره کړي.
10. د ادارې د ټولو تجهیزاتو ساتنه کوي او د اصولو پابند وي.
11. له ادارې اجناسو څخه په شخصي ډول استفاده باید ونه کړي (ټلیفون، کمپیوټر...)، یوازې د ادارې کار لپاره ده.
12. د ټولو اړوندو آمرانو او تر لاس لاندې پرسونل سره همغږې درلودل.
13. د ادارې سره یې چې کوم قرارداد کړی باید پر هغه اصولو ولاړ وي.
14. د اړتیا په صورت کې اداري کار ،که له مؤسسې دباندې وي او که دننه، باید ترسره یې کړي.
15. په غیر رسمي وخت کې که چیرې په اداره کې اړتیا پیدا شي، باید د کار لپاره حاضر شي.
16. کله چې په رسمي او غیر رسمي وخت کې له ادارې وزي، باید مربوطه آمر سره په اړیکه کې شي.
17. په اداره کې هر کارکونکی خپل د کار لپاره وظایف لري، باید په منظم ډول یې ترسره کړي.

**اتمه ماده:** کوم وخت، چې اداري کارمند له پورته مواردو څخه سرغړونه وکړي، د لوړو زده کړو د مقرارتو او د ملکي اداري د کارکوونکي چلند د اصولو له مخې باید اړوند مسؤولینو ته ځواب ورکړي.

**د محصلینو له پاره اخلاقي معیارونه:**

**نهمه ماده:** محصلین د یو هیواد لویه بشري سرمایه بلل کیږي نو ځکه ددي قشر سالمه رزونه د ښوونې او روزنې پوهنځي لومړیتوب دي. د محصلینو لپاره د لاندي اخلاقي اصولو مراعتول مهم دي:

1. محصل باید په علمي ماحول کې د اوسیدلو او درس ویلو په وخت ټول اصول پرځان تطبیق کړي. محصل به هغه څوک وي چې هیڅ بدبیني او منفي فکر ونه لري.
2. د پوهنځي په داخل کې به داسي لباس اغوندي چې د ټولنې وګړي ورسره حساسیت ونه لري.
3. زغم او روښانه فکر به لري، پاکوالی او نظافت ته به جدي پاملرنه کوي.
4. اصول او مقرارت به مني او احترام به یې کوي.
5. با آدبه به وي، د پوهنځي اداري کارمندانو، مشرتابه، استادانو او نورو محصلینو ته به احترام لري.
6. په اکاډمیک چاپیریال کې به د نورو آزارولو او تکلیف رسولو څخه ځان ساتي.
7. په پوهنځي کې د سامان آلاتو او نورو وسایلو ساتونکی وي.
8. کوم څه چې د استاد له خوا ورته تدریس کیږي، محصل باید دا تعهد له ځان سره ولري چې په ښه یې شکل یې زده کړي.
9. په پوهنځي کې د ټولګي، کتابتون، د درسي وسایلو او نورو شیانو څخه باید مثبته استفاده وکړي.
10. ښه اوریدونکی وي او د درس په جریان کې د استاد سره ښه برخه واخلي.
11. د حاضرۍ پابند وي، پر وخت ټولګي ته راشي او پر وخت بیرته له ټولګي څخه ووزي.
12. د خپل ظرفیت لوړاوي په برخه کې متوجه وي.
13. په خپلو چارو کې فعال وي او د ورسپارل شوي دندي پر وخت اجراء کوونکي وي.
14. په پوهنځي کې دننه د پټو او سیاسي اړیکو پالونکی نه وي.
15. د فعاله محصل په توګه خپل ټول درسي مواد له ځان سره ولري.
16. د هر ډول قومي، ژبني، سمتي او نور تعصبونو څخه پاک وي.

**لسمه ماده:** کوم وخت، چې یو محصل له پورته مواردو څخه سرغړونه وکړي د لوړو زده کړو د مقرارتو له مخې باید اړوند مسؤولینو ته جواب ورکړي.

**پای**

Mirwais Khan Nika University-Zabul

Vice-Chancellory of Academic & Studets' Affiars

Education Faculty

# The Catelogue of Education Faculty

## Year: 2024

## Updated year: 2026

Committee of Publications and Cultural Affiars